# فراری شم

له وطنه پردی شم ، له چرتونو لیونی شم
په غربت کی ژبه گونگ قربانی د ځانځانی شم
پورته کړی می آواز وه چی بی وزلو ته خدمت کړم
په فتوا دځو جاهلو هم باغی او دوزخی شم
د قدرت په وخت جیبونه په پیسو می نکړ ډک
د شیر پور قصر نشینو په تبلیغ لوی مر تشی شم
ما ویل ناپوه ملا دنهضت په مخکی خنډ وی
د جاهلو ، پکول پوشو له هیبته گریزی شم
ما ددوی عمل نامی ټولو خلکو ته ښوول
د جاهل ملا وزیر په خبرو غټ دهری شم
نه دهری ،نه مرتشی یم دبی وزلو پلوی یم
دبی وزلو سره ځم که په اور باندی ستی شم
دا ا سلام تر نامه لاندی تاړاکگر او پاټکیان
زه ددی ډلو ټپلو له لیدو په زړه زخمی شم
وطنوالو تا سی ولید دا دوه مخی مومنان
زه )مل( ځکه له خپل ځای هم بی ځای اوفراری شم
**************

پو هندوی وکتور سید حسام مل
جرمنی اوگست کال دوه زره اوه

*www.ayenda.org*